**خبری خپرونه**

**نړیوال بانك**
له بي وسۍ فقر او غربت څخه ژغورلي
نړۍ ته د رسیدلو لپاره هلې ځلې

| | |
|---|---|
| شمېره: SAR | اړیکي:<br>نړیوال بانک په کابل کی: عبدالرووف ضیا ۷۰۰۲۸۰۸۰۰ (۹۳)<br>Azia@worldbank.org<br>نړیوال بانک په واشنگتن کی: اريك نورا **۴۷۳۵ ۴۵۸** (۲۰۲)<br>enora@worldbank.org |

# د نړیوال بانك راپور پر بنسټ د ولایتونو د مالي سیستمونو پیاوړتیا د افغانستان ملي ستراتېژۍ د موخو سرته رسېدو لپاره خورا اهمیت لري

**کابل (د آگست خلورمه، ۲۰۰۸)**: د نړیوال بانك د نوي راپور پر بنسټ چي نن خپور شو، په ولایتونو کې د خدمتونو برابرولو او اداري د سیستمونو پیاوړتیا د افغانستان ملي پرمختیا ستراتېژۍ د دری گونو موخو یانې د امنیت ښه والی، حکومتدارۍ او پرمختیا لپاره اهمیت لري.

ددې راپور پر بنسټ چي **«په افغانستان کې د دولت ادارو ترمنځ مالي اړیکي او ولایتي لگښتونه»** تر عنوان لاندې خپور شو، د ولایتونو د مالي سیستمونو کمزورتیا کولای شي پر سیمه ایيزې اداري او خدمتونو باندې ناوړه اغېزه وکړي او ښایي امنیتي ستونزې نوري هم پراخې کړي. په راپور کې یادونه شوې چې د هېواد د سرچینو تخصیص او بودیجې جوړښت یو له بله د پام وړ بېلتون لري. د هغه معمول نظر په پخلي سره چي ویل کیږي د افغانستان عامه سکټور تر زیاتې کچې مرکزي دی، د عامه سرچینو په سلو کې ۷۶ د خزاینو د مرکزي سیستم له لارې لگول کیږي. خو په واقعیت کې د عامه سرچینو په درېو کې دوه برخې د هغه فعالیتونو لپاره کارول کیږي چې د ولایتونو یا سیمو په کچه ترسره کیږي.

اوس مهال د مرکزي دولت عامه لگښتونه د مرکز په کچه پلان کیږي او بودیجه یې تاکل کیږي خو د بودیجې جوړولو په پروسه کې د ولایتونو برخه اخستنه لږ ده یا بیخي نشته ده. په پایله کې د ولایتونو کارکوونکي پر هغه خدمتونو چې په ولایتونو کې چمتو کیږي، لږ کنترول لري.

*«د عامه لگښتونو د نامرکزي لگښتونو د سیستم او د بودیجې د واك خورا مرکزي سیستم ترمنځ د توافق نشتون ددې لامل گرځېدلی چې د عامه خدمتونو د اغېزمنتیا، کټورتوب او حساب ورکوني پر ضد مهم خنډ جوړ شي.»* دا خبره مریم شېرمن چې په افغانستان کې د نړیوال بانك مشره ده، څرگنده کړه او زیاته یې کړه چې *« ددې نا انډولۍ له منځه وړلو لپاره به پکار وي چې د بېلابېلو ادارو ترمنځ د بودیجې د تخصیص څرنگوالي ته پام واړول شي ترڅو د عامه لگښتونو او مالي جوړښت ترمنځ زیاته همغږي منځ ته راشي.»*

همدارنگه په راپور کې راغلي دي چې د ولایتونو د مالي لگښتونو په منځ کې د پام وړ نانډولي شته ده. د بېلگې په توگه د معارف سکټور سرانه لگښتونه د ولایتونو په منځ کې په پراخه توگه توپیر لري. د بودیجې د سیستم دا

ستونزې کولای شو د داسې میکانیزمونو په کارونې سره له منځه یوړل شي چې د هغې په مټ په ټول هېواد کې د سرچینو برابر تخصیص ترسره شي.

*« ولایتونو ته د سرچینو نا انډوله وېشنه ددې لامل ګرځي چې د هېواد په ټولو برخو کې د کافي عامه خدمتونو د برابرولو په لاره کې د مرکزي دولت توان کمزوری شي.»* **دا مطلب ښاغلي رونالد وایټ چې د ادارو پرمختیا په څانګه کې د نړیوال بانک مشر متخصص او ددې راپور د لیکوالانو څخه دی، څرګند کړ.**

راپور کې یادونه شوې ده چې لاړمه ده ترڅو د ښاروالیو د تمویل یو اغېزمن چوکاټ جوړ شي. ښاروالۍ د ګڼو خدمتونو د چمتو کولو مسؤلیت لري خو ددې خدمتونو لپاره د هغوی د عوایدو بنسټ ډېر کمزوری دی او سربېره پردې هغوی د بودیجې په جوړولو کې لږ خپل واکي لري. د کابل ښاروالۍ په استثنا، د هېواد نورې ښاروالۍ داسې سیستم نلري چې د مرکزي دولت څخه بسپنې ورته راولېږدول شي او نو ځکه مسؤلیتونه خو یې یا د مرکزي وزارتونو له لارې ترسره کیږي او یا له هغې څخه سترګې پټیږي چې اغېزې یې د عامه خدمتونو پر برابرونې پرېوزي.

راپور ښکاره کړې ده چې د پالیسیو دا ننګونې عاجلې او مهمې دي خو دا ستونزې یوازې په افغانستان کې نه دې پېښې شوې بلکه ډېری نور هېوادونه هم د ورته ستونزو سره مخ شوي او د هغو د له مینځه وړلو لپاره یې اغېزمن ګامونه اخستي دي. افغانستان کولای شي ددې نړیوالې تجربې څخه ګټه واخلي او په همدې موده کې هغه تګلارې خپلې کړي چې د اړونده حالتونو سره یې سمون ولري او د خزاینو د اوسني مرکزي سیستم سره ملتیا وکړي. نړیوال بانک لېوال دی چې د افغانستان د دولت سره د نوموړو ننګونو په لېرې کولو کې مرسته وکړي او همدا راز د مالیې په وزارت کې د اوسنیو اصلاحاتو د بهیر او د سیمه ییزې ادارې پالیسي څخه چې د سیمه ییزو ارګانونو د مستقلې ادارې له خوا ترسره کیږي، ملاتړ کوي.

# # #